# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



فرهاد ویاړ
20.03.10


## آیا زه حساب ورکولي شم؟
## (۲)

د ۱۳۸۷ کال په تلي میاشت کي مي له خپلو کارونو څخه یو حساب ورکړ او پایله یي دا وه چي لا ډیر څه باید وکړم خو د حساب ورکولو وړ وګرځم. د ۸۷ کال په میزان کي مي څه داسي لیکلي وو:

«ژوند مي له دردونو او کړاونو سره پیل شو. ماشوم وم چي د پاکستان لاره مي ونیوله، که ربښتیا یي وپوښتي اړو په یاد مي هم نه دی چي څه وخت و او ولي. خو وروسته پوه شوم چي د شاملو په وینا د لمر راختلو برنامه زما په هیواد کي لغوه شوی ده. خراغونه او ډیوي باید مړی شي....

باجوړ، چي اوس د طالبی بنسټپالی ډګر دی او هره شیبه یي ویالی، پټی، بوساړې، درمندونه، ختکی، غرونه او شاړې په وینو ککړیږی، زما د ماشومتوب د خاطرو او یادونو بڼ دی. د لومړی ځل لپاره مي سر همدلته مات کړ او وینه مي ولیده او پوه شوم چي ژوند: وینه

کلونه لا تیر نه وو چي د ښوونځی په موخه مي کویټي ته حرکت وکړ، زه د ټولو ناخوالو او کړاونو سره دا پیل هیڅکله نشم هیرولی. کویټي، زما لپاره د انسانیت نوی وروانه پرانیستل او نری یي راته بدله کړه.

ژوند تیر شو. یاد مي کړل، پوه شوم او یو باورمن انسان راڅخه جوړ شو. هو بیا وایم چي دا ډګر هیڅکله نشم هیرولی، سره له دي چي اوس د ځځلو او اغزیو ډک شوی دی. له دي اغزو راووتلم او د بڼ په لوري مي حرکت وکړ، البته د ښکار له نوی وسلي سره.

زما وسله زما قلم دی. په دغه اغزن ډګر نه یوازي دا وسله صیقل نشوه، بلکي سپکاوی یي وشو، لته شوه، بیکاره شوه، کرکجنه شوه او پڅه شوه. خو اوس مي هوډ کړی چي دا وسله بیرته صیقل کړم، تلپاتی کړم او ځلا یي د تړزومو پر سینه کي لمبه کړم.

د دغي اغزن او له ځځلو ډک ډګر په پرېښودو سره، ما څوک وکړل؟

**د شعرونو ژباړه:** په دي موده کي ما د هاینریش هاینه (دکترین او د سیله زی اوبدونکی)، د شاملو (سرچینه، عاشقانه، کوکاره او... بل هیڅ، له کرکي ډک، تینګار، طرح، ته راته ګران یي، شپي مهاله، د اعدام ګړی او روښانه افق)، د لنګستن هیوز (کوڅه ډبی، امریکایی ـ افریقایی قطعه، پریږده دا وطن بیا وطن شی، ځنډول شوی

رویا، دموکراسی، کوکلوکس، زه یو تور یم، څه فرق نلری، زما خلک او زما د خیالونو نړۍ)، د پابلو نرودا (له رښتیا سره ژمنه، ډیر څه نه، په ورو د مړیني پیل کوی، بیرغ او دښمنان)، د خسرو گلسرخی (مرغی او طناب، ملاقاتی، تر بل لمر پورې، دښمن او ولس او لکه وینه ووسه)، د محمود درویش (دمخه چمتو شوی سناریو، همدلته، باران او یو قاتل ته)، د برتولت برشت ( په ستاینه کې او راتلونکو ته)، د ه. ا. سایه ( د ښکلولو او عاشقانه غزلو مهال نه دی، خبر لنډو و... او شعر)، د تسلیمه نسرین( برید او حجاب)، د سالم جبران (چوپتیا)، د فدریکو گارسیا مارکا ( چاړه ، د سیند د اوبو ترانه او چه گوارا ته)، د علی رضا نابدل ( وغوړیږه سباوونه)، د ارغوان فراهانی (آیا کولای شو یو شعر ووایو...)، افریقایی شعر (کله چې مرم لا تور یم)، کوبایی شعر (ونه)، د مارگوت بیگل (مینه)، د خسوس سابو اورین (د زندانی ستاینه)، د ژاک شارون (دښمن)، د پی یر روردی (راز)، د ژاک پرور (سرتمبه، پاڅون او زما مینې ستا لپاره)، د ادوارد حق وردیان (بیا زیږیدنه)، د اولا ویکاندر (ولې نه؟)، د ویکتورخارا (مانیفست او آماندا، ته مې په یاده یې)، د انترناسیونال سرود، د سعید سلطانپور (خوشې کړی ما)، د رونو (خیرنه جگړه)، چینایی شعر (انجلی ته کمونیسته یې!)، د نیناگسیان (یو سړی)، د امیلی دیکنسیون (د کلمې مرگ)، د واهه آرمن (د دیوال ها خوا ته)، د مورتوز نگاهی (د لمر په شان)، د اریب با (قهرجنې خویندې)، د شاندور پتوفی (لیچن اتلان، شعر او مینه او آزادی)، د فروغ فرخزاد (خور ته مې)، د مثل همفری (توره وینه سره کیږی)، د فیگوئه امرریچ (زه نه غواړم)، د ژاله اصفهانی ( ښه نړۍ او د حماسو ستروالی)، د ناظم حکمت (نړۍ ماشومانو ته ورکړو او د آسیا او افریقا لیکوالانو ته)، د نادر پور (ناویلی)، د زیبا کرباسی (تور)، ایتالیوی سرود (خدای پامان ښایستې)، د احمد جواهریان (یو شعر ووایه)، د مینا اسدی (زما د شعر منشور)، د موسی جلیلوف (قاتلان)، د مینا (هیڅکله نه ستنیږم)، د هریستو بوتف (شاید)، د اتل روزنبرگ (که موږ ومرو)، د مارژ پیرسی (د نیتوالو لاره)، د سمیع القاسم (د یوې ماتې راپور)، د کادریا تمیر بولا توا (له تورو وریځو مرمی جوروم) او د نزار قبانی (ډېر غورځونکی ماشومان) شعرونه وژباړل.

**زما شعرونه:** د کوکناورې ناوې، لمر ډوبیږی، آسمان وی ـ ښایسته لمرینه، بیرته ستنیږم، یورانیم، گیتار، ډوډۍ، لیوه، لمبه، زما کوکاری، ما در کجای انسانیت ایستاده ایم؟، ځوزان، سوداگران زر، برخه!!، گلادیاتور، نفرین بر نفت، جلادانو بس دی، پدرود!، مردی از تبار آتش، تبار خونی گلها، خدای آتش، سفری کوتاه، بودا او خرابات.

**نثری ژباړې:** اوس به څوک موږ ته شعر ووایی؟، گلسرخی تلپاتی شاعر (د گلسرخی میرمن عاطفه گرگین د مرکې ژباړه)، له ستونې مه نه تیریږی ( لورا بوش ته د امریکایی شاعرې لیک)، زه سیاسی سندرغاړی یم (د جان لنون سره د مرکې ژباړه)، رپ موسیقی د زیارکښانو موسیقی، د دالت کاست ولسی ادبیات، زه د ظالمانه سیاستونو په وړاندې اعتراض کوم ( د آرندواتی رای اعتراض) او... او.... او...

**زما لیکنې:** یو شعر چې کرکه ده، پاڅون دی او انتقام ( د فواد لامع د شعری ټولگې په پلمه) او شعر خنجرې بر حنجره دژخیمان ( د عبدالغفور لیوال د شعری ټولگې په پلمه).

**بی ارزښته لیکنې:** لسگونه لیکنې چې د یادولو ارزښت نلری (د تندې په خوله او د لاس په تناکو مې ژوند تیروم ).

آیا ما څه کړی چې حساب یې ورکړم. نه لا مې هیڅ نه دي کړی چې د حساب ورکونې وړتیا ولری. باید بالاخره یو څه وکړم چې حساب یې ورکړم.

زه مخې ته ځم.»

* * *

له ځينو شوده ګانو اورم چي ګواکي ټول کار مي ډالر پيدا کول دي. دا خبره که ومنم يا يې ونه منم، څه فرق کوي؟ بايد ووايم چي هو زه ډالري پيدا کوم، خو تر ځنګ يي تل هڅه کوم چي د خپلي ايډيولوژی لپاره هم د ژوند يوه برخه مي ورکړم. هيره نکړم چي ډالري هم د **مټ په زور** او د **تندي په خوله** پيدا کوم، نه ....

او که رښتيا د همدغه شوده ګانو له يو تن څخه وپوښتي چي ګرانه، ته چي نامی خدای ډير نامعلومي **ډالري** هم لرې ، د خپلي ايډيولوژی لپاره څه کوی؟ نو چوپه خوله به پاتي شي او تا به مجبور کړي چي ورته ووايه: تو لعنت دي شه په داسي «ايډيولوژي»!!

راځي چي له دي شوده ګانو تير شو او د حساب ورکوني دويم پړاو ته راشو. بايد اعتراف وکړم چي په دي پړاو کي حساب نشم ورکولی او داسي يو څه مي هم نه دي کړي چي د حساب ورکولو وړتيا ولري. بايد ډير داسي کارونه مي کړي وی چي کولای مي شول، خو د تلپاتي شاملو هماغه خبره ده «که د ډودی غم مي پريږدي نو ډير شيان به ووايم.» خو بيا هم زما په اند دا به ښه کلتور او فرهنګ وي چي هر څوک له يوې مودې وروسته د خپل کار جمعبندي وکړي او وګوري چي څه يي کړي او څه لا پاتي دي. نو زه هم په دي پړاو کي هڅه کوم هغه لږ څه مي چي کړي، حساب يي ورکړم او باور لرم چي په دې حساب ورکوني کي کم راځم، خو بيا هم:

**شعري ژباړي:** ما په دي موده کي د برتولت برشت (د نيکانو محاکمه، بدلونونه، فقير، کله چي زمونږ ښارونه...، د ۱۹۴۵ المان، د پېنو پلونه دي پاک کړه، له نيکی څه ګټه، د ژوند حقيقت، د زده کړي په ستاينه کي، د يوه پوه کارګر پوښتني، آن آسمان، هيله من، هاليووډ، چيري کډه کوئ؟ پر ديوال له ګچ سره ليکل، جګړه چي به پيل شي، ستا غم، لوګی، اورو چي ته ستومانه يي، د هغه چا د مرګ لپاره چي د سولي لپاره مبارزه کوله، بنايان، مونږ خطا لرو، مور مي، هر ځل همدا چي...، د زوړي مور کيسه، د شترينګ بدلول، د يوه شعر يوه برخه، فاش ماهي، که د تل لپاره پاتی کيدی، ما سره جورجيا ته راشه او په هغه اړه د ځنګل مرغان چوپ پاتي کيږي) د ويکتور خارا (د چه لپاره مرثيه، مينه، متحد ولس، زمونږ ټاټوبی، تراني څه نيمګړی يي، د چيلي ستډيوم، تا ته دي درناوی وي ای کارګره او د آزادی په لټه) د لنګستن هيوز (ماشومانه زمزمي، د نه چاپيدلو وړ، روياګاني، د ځان وژني يادداشت، يوازي، شعر، پای، وينښتيا، ترانه، سوال او ځواب، خره او آواز) د ناظم حکمت (نه لګيدلی سګريټ، «هغه څوک چي ځي»، زما ميني هغوی د هيلي دښمنان دي، سترګي مو خطا ځي او زما زړه) د فدريکو ګارسيا لورکا (بدرود) د نزار قباني (پوښتنه او وايي چي مونږ تروريستانو يو) د ګريس دبرګ ( انقلاب) د پابلو نرودا (بی عدالتي او د هغوی دردودنه – زما دردونه) د جوان بايز (د ساکو او وانزتي قصيده، بيا هم د ساکو او وانزتي قصيده، د ځمکي ټولي ستومانه ميندي، د ديويد لپاره يو سرود او زه له تا سره يمه) د بدر شاکر السياب (د باران سرود) اسپانيوي ترانه (تل تر تله قوماندانه!)، د فيض احمد فيض (بيګا، غزل، يوازيتوب او نن شپه) د تئودورسيکس (خلک د خپل ځان مالکان دي) د رضا فرمند (ساده حقيقت، عادت او ښځه او آزادي) د داد نوراني (مينه، پانه، لاس او د رڼا دښته) د شاندور پتوفي (يادګاري، زما تراني، ولس او يو فکر مي ځوروي) د عيدي نعمتي (ديوال) د جان لنون (قدرت د خلکو لپاره او د کارګری طبقې اتل) د تريسي چاپمن ترانه، د يانيس کوندوس يوناني شاعر (تشريح ګر) د کارلوس جرمان به ئی (محرومه طبقه) د احمد مطر عراقي شاعر (خوښيدونکی شعر، زاري، تاريخي وينا او اساسي مطلب) د شير کو بی که س عراقي شاعر (پند) د غاده السمان (د آمستردام غاټول او زه يوه انسانه يم) د عبدالله په شيو («هيله») د يانيس ريتسوس (ولس) د رابيندرانات تاګور (ناوخته او وروستي خبره) د ژاک پره ور (تيرباران شوي او ترانه) د فاروق فاراني (اوږده شپه، سيوری او بی خبر) د هوشي مين (د زندان شعر) د مينا اسدي (هوکړه ها کړه او بمباران) د اتاهوالپايونکي (بيده شه زما توره بچيه، دهقان او د خدای په اړه پوښتني) د آنتال

هیداس مجارستاني شاعر (فکر وکړه) د خسوس لویس پاچه کو (هغو قاتلانو مینه وژلی ده او د قهر او هیلي شعر) د پینک (ښاغلي ولسمشره) د فوفایترز (ستا تر ټولو ښه) او موږ تا ته نژدې یوو شعرونه ژباړلي دي.

**نثري ژباړې:** زه آزاد شوم خو وطن مي لا په اسارت کي دی (منتظر الزیدي)، هغه پاچا چي کارغانو انتخاب کړ، محرمانه راپور (عزیز نسین)، شعر او ټولنه (صمد بهرنګي)، په دریمه نړې کي د لیکوال رول (طاهر بن جلون)، د کمونیزم اصول (انګلس)، مور مي ښکلي نشوه (رضا فرمند – ۴۷ شعرونه)، د یوه شاعر پوښتني (احمد شاملو)، ویکتور خارا د انقلاب سندرغاړی (مریم ناصحي) او...

**ټایپ او ایډیټ:** دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره ( د مرینه سحر ژباړه)، الدوز او کارغان (صمد بهرنګي، د ف. رووفي ژباړه)، کوراوغلو او ګنجی حمزه (صمد بهرنګی، د ف. رووفي ژباړه)، مارکسیزم او رفورمیزم (لنین، د هاشم سهار ژباړه)، دین د لنین له انده (لنین، د هاشم سهار ژباړه)، زه له رهبر کیدو څخه کرکه لرم (چارلي چاپلین، د نور فرهاد ژباړه)، د شناخت په هکله یو څو خبرې (صمد بهرنګي، د څرک ژباړه) او...

**زما شعرونه:** شعله ای از خشم، توره عاطفه، «آزادي»، وینه – وینه، سپیه ما مه داړه!، ای زما بوټانو!، خدای په امان لوری، !، ګل، اما...، شب، خبر شوم... او...

**زما نثري لیکني:** ژان فرا، د مبارزې او تعهد آواز – اتاهوالپایونکي، د بزګرانو او کارګرانو آواز ـ ویولتاپارا، د میني او مبارزې ګوګل ـ کیلاپایون، د آزادی فریاد – پینک، مینه او ژمنه – په باد کي پوکی – مرسدس سوسا د لاتیني امریکا د رنځونو زړه ودرید – هغه تور ستونی کنګل شو – رګه، د جامائیکا انقلابي او ولسي موسیقي – دو خط فکری: آزادگی AA-AA و استبداد زدگی AGO او ...

## آیا ما څه کړي چي حساب ورکړای شم؟ نه! باید مخې ته لاړ شم، مخې ته!